ډاکټر لمر ۲۰۱۲/۱۱/۱۳

# د اسماعیل خان وروستۍ اپلتې یا د ورکېدو وروستۍ ترپکې

د اسماعیل خان تاریخي نخرې ډېرې زړه بوږنونکې ښپې لري. کله چې په هرات کې لیا تورن اسماعیل وو، نو د کمونیستي واکمنو پر ضد یې په ۱۹۷۹ میلادي کال بغاوت وکړ او بیا د جهاد له لیکو سره مل شو، چې د سیمي خلکو له تورن صیب نه لکه یو مجاهد غونډي اطاعت وکړ او د سیمې د امیر نوم یې ورکړ، مګر پوښتنه دا ده، چې ولې دغه د ملي اردو تورن صیب، د جهادیانو امیر صیب او د بلواکانو ستر جنرال صیب د افغانستان تېري، تنظیمي او ژبنیز ښکېلاک ته د اسلام مقدس دین تر نامه لاندې ورودانګل، له روسانو سره یې جهاد وکړ، خو له امریکایانو سره بیا په واک کې ور ګډ شو، چې نن سبا یې د شتمني کچه له میلیارډونو ډالرو اوښتې او د مملکت په کچه په فساد کې ښکېل دی، نو دا هغه پوښتنه ده، چې هر با انصافه افغان یې باید له ځانه وکړي، چې دغه بدمرغه لکه چې له وېشه په چور ډېر خوشاله دی، چې وايي: شرې شود که خیر ما باشد!

وروسته د کمونیستي واکمني له نسکورېدو ښاغلي تورن صیب اسماعیل خان د غرب او جنوب غرب جبهه د طالبانو تر راتګه پورې توده وساتله، چې په لکهاوو بې ګناه خلک یې قرباني شول او په سیمه کې یې له ګلم جمه نیولې تر پهلوان عبدالمالک خانه یې سازشونه او ترونونه وکړل، چې خپله سیمه بیزه واکمني وساتي او د سیمو په خلکو خپله د ظلم مېچن وچلوي، د ښاغلي تورن اسماعیل د هغه مهال د انډوخر په اړه د جنرال ظاهر عظیمي کتاب «طالبان چګونه آمدند» ولولی! مګر ما ته د اسماعیل خانه لاندینۍ څرګندوني په زړه پورې دي، چې وايي:

په بدن کې یې دسلو مرمیو نښې شته او دجنوب غرب حوزې تر سل زره زیات شهیدان ورکړي دي او اوس چې په چوکۍ ناست دی دا د دغو وینو برکت دی او مجاهدین به اجازه ورنه کړي چې افغانستان ګډوډ شي. ده وویل چې ولسشمر کرزی په غزني کې دطالبانو په خلاف د پاڅون ملاتړ کوي مګر که دغسي یو کار مارشال فهیم، استاد خلیلي، استاد سیاف یا استاد عطا کړی وای، بیا به ورسره چلند بل ډول و او دا ځکه چې دا مهم کسان دي او له دوی وېره کېږي، خو دغزني دقیام مشر ګمنامه سړي دي. ده په خپلو څرګندونو کې په غیرمستقیم ډول ولسمشر کرزي ته دا ویل غوښتل چې که دی له چوکۍ لرې شي، نو خپله برطرفي به له کرزي او خارجیانو وګڼي (د افغان جرمن د برېښنا پاڼي د خبرې څانګي برخه). زما په ګومان لاپې او اپلتې هم اندازه لري!



د تورن صیب له پورتنیو خبرو دا جوتېږي، چې قرباني هراتیانو ورکړه، مګر چلچې جهادیانو وکړې! مګر د غزني ولسي پاڅون یا غوبل په نا امنه سیمه کې رامنځ شوی، چې دولت ورڅخه سیاسي، تبلیغي او نظامي ګټې پورته کوي، مګر تاسو جناب خو د هرات په سیمه کې د ګډوډي ناره پورته کوی او بیا مو هغه منفورې ښېرې یادې کړې دي، چې د یو شمېر یې په کابل کې او بل شمېر یې د هېواد په نورو سیمو کې لاسونه تر مروندو څه چې تر څنګلو په وینو سره دي، چې بیا ستاسو د د انسان وژني ژرندې ته د اوبو پر ځای د وینو ډکې ویالې ورخوشې کړې او تاسو ته چوکۍ وګټي!

د طالبانو له راتګ سره د جهادیانو، ګلم جمانو او نظارتیانو ټغر مخ پر ټولېدو شو او تورن اسمعیل خان هم د خپل سیمه ییز یا ژبنیز چال په لومه کې ښکېل شو او د عرب جنرال عبدالمجید روزي په وساطت او د ازبک جنجال عبدالمالک په د طالبانو لاس ته ورغی، مګر بیا د طالبانو د سهل انګاري په ترڅ کې او د عبدالرزاق حکمتي په مرموزیت کې، چې د امریکایانو د ګوانتانامو په جبل کې ګواکې د سرطان د ناروغی له کبله مړ شو، اسماعیل خان هم د کندهار له بندیخانې


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

وتښتېدو او یا وتښتول شو، چې بیا یې په ایران کې د خپل هېواد اوهراتیانو پر ضد فعالیت پیل کړ او د مقاومت تر نامه لاندې یې خپل مافیایي ګودل له وینو، زرو او زېرمو ډک کړ، چې د امریکایي تیري او شمال ټوالې له غوبل سره سم یې بیا د پېښو ډګر ته لکه بګېل مرز غوندې ورودانګل! چې د هرات سیمه د خپلو نامشروع غوښتنو لپاره لاندې کړي او د بې وزلو وینې تویې کړي.

د امریکایی غوبل سره یې سم د خپلو ناروغو غوښتنو پر بنسټ د جنوب- غرب د سیمې د امارت ډنډورې شروع کړې، د هرات- ایران، هرات- کندهار او هرات- فاریاب په لویه لار یې پاټکونه جوړ کړل، چې پایله یې د سیمې له خلکو سره د اسماعیل خان اخو ډب شو، چې له کومندان نایب سره یې یوې خوا ته ډزوله او له کومندان امان سره یې بلې خوا ته ټنګوله، چې پایله د هغو دوو تر ځنګ د زرهاوو بېګناه خلکو وژل کېدل شول، له هراته د اسماعیل خان د زوی میرویس صدیق ورکېدل شول، د برېښنا وزارت ته د اسماعیل خان رسېدل شول او د افغانستان د خلکو په تیارو کې ډوبېدل شول.

په وروستیو دوو اونیو کې د تورن اسماعیل بې مسؤلیته څرګندونو د افغان ولس ډېر خلک ناکراره کړي او ګنشمېر اندېښنې ورته پیدا شوې دي، چې دغه بدمرغه تورن صیب اسماعیل خان د چا په اقتصادي امکاناتو او یا د چا د وسله وال ځواک یا متو په مرسته د جهادي شورا نوم یادوي، چې د مجاهلینو د ملک الطوایفي هنګازې یې بیا رابوړنولې دي او د وینو د ویالو ورمې یې پکې نغښتې دي، چې قرباني به یې بیا هم لومړی د جنوب- غرب حوزې متدین خلک او بیا نور وي.

دا ځل بیا تورن اسماعیل خان د خپلو خبرو سپیناوي او که ټولنیزې سپکاوي لپاره یې د یو شمېر خلکو لکه: فهیم قسیم، استاد عطا، استاد خلیلي او ملا سیاف نومونه یاد کړي دي، چې بیا یې خپل هغه زاړه، وراسته او بوین د ملکوالطوایفي جګړو متحدین، چې ټول افغانستان یې پر سر واخیست رسنیو ته څرګند کړي دي، یعنې بیا یې د افغانستان ټوټې کېدلو، د وینو تویولو او خلکو وژلو ته خپله ناوړه لومه ایښې ده، چې په لومړي ګام کې به یې قرباني هراتیان او د سیمې خلک وي او بیا به یې د اور لمبې نورو ته رسېږي، ځکه جنرال صیب «شېر خانه او روبا بیرون» دی او یا لکه هغه بل شېر پنجشېر او بز کابل غوندې.

زما په ګومان له افغان ملت سره باید داسې یوه پوښتنه پیدا شي، چې کله روسانو په افغانستان بربنډه تېری وکړ، نو تورن صیب لومړی بغاوت او بیا جهاد وکړ، مګر کله چې امریکایانو په افغانستان تیری وکړ، نو دی یې تر ځنګ ودرېد او د افغانستان د خلکو په ځپلو کې یې نېغه ونډه واخیسته، د میلیاردونو ډالرو سرمایه یې جوړه کړه او د خلکو ځمکې یې غصب کړې! په زړه پورې لیا دا ده، چې دغه ښاغلی وایي، چې وراره یې په هرات کې تښتولی شوی وو او تورن صیب ورته یوسلودودېرش زره ډالر ورکړل! یعنې دی په هرات کې د خپلو خپلوانو امنیت نه شي ساتلی، نو نورو ته به څه وکړي، خو یوه پېښه څرګندوي، لکه چې په جهاد کې هم د وینې پر ځای پیسې وېشل کېدلې، نو عجیبه مسلکونه، عجیبه پیسې او عجیبه یې هم پیغامونه!

پایله

درنو هېوادوالو! په فارسي کې یو متل دی، چې وایي: آزموده را آزمودن خطاست!، نو موږ او تاسو ټولو د افغانستان د کمونیستانو، اسلامیستانو او تیکنوکراتانو واکمنۍ ولیدلې او په خپل ځان او پوست مو احساس کړې، نو د افغان ولس ځانګړوه، په هېواد او خلکو مینو ځوانانو او پېغلو ته پکار ده، چې د ټولنې د سمې ادارې، سم امنیت او سم پرمختګ مسؤلیت لپاره هلې ځلې وکړي او یو داسې اداري میکانیزم رامنځ ته او پکار یې واچوي، چې ټولنه له راتلونکو بدمرغیو وژغورل شي او د افغان ولس وقار او غرور وساتل شي، چې د دې لپاره یو منظم، پیاوړي او صادق ټیم ته اړتیا ده، چې د یو ټولنیز خوځښت په اډانه کې ټول ځانګړوه او په هېواد مین خلک راټول شي او د افغانستان برخلیک وټاکي، که نه نو بیا به همدا ماشیني جنرالان او پروفیسران وي او همدا یې جنجالونه او ټولنیز غمونه!

د رېښتني افغانانو د اتحاد او بري په تمه


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ